# د نیکمرغه
# کوچني اختر
# د رارسېدو په مناسبت
# د عالیقدر امیر المؤمنین
# شیخ الحدیث مولوي
# هبة الله اخندزاده حفظه الله

## د مبارکی پیغام

۱۴۴۳ هق – ۱۴۰۱ هش
۲۰۲۲ م

### د پیغام له متن څخه:

د اسلامي امارت ټولو مسئولینو، مجاهدینو او کارکوونکو ته لارښوونه کیږي چې له ولس سره ښه او نرم چلند زموږ تاسو ټولو فریضه ده، له ملت سره ستوغ او بد چلند ونه کړئ، له خپل ټوپک او قدرت څخه په استفاده په نورو خلکو ځان لوړ او قوي ونه ګڼئ، قدرت یو امانت دی، چې ستاسو په اختیار کې درکول شوی، دا شیان د هیچا لپاره د عزت او په نورو د برترۍ وسیله نه دي.

همدا ډول له بیت المال سره خورا ډیر احتیاط وکړئ، بیت المال یو امانت دی، چې ستاسو په اختیار کې درکول شوی، هیڅوک په کې د بې ځایه تصرف، ضایع کیدو، خیانت او شخصي کولو حق نه لري، که څوک له بیت المال سره بې احتیاطي کوي، د امارت لخوا به هم له سخت شرعي چلند سره مخ شي او الله تعالی به هم سخته معامله ورسره وکړي. ان شآءالله

د افغانستان اسلامی امارت
د ریاست الوزراء مقام دفتر
د عامه او استراتیژیکو اړیکو معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحيم

# د نیکمرغه کوچني اختر د رارسیدو په مناسبت
# د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوي
# هبه الله اخندزاده حفظ الله
# د مبارکی پیغام

۱۴۴۳ هق – ۱۴۰۱ هش

۲۰۲۲ م

# بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمد للّٰه نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده اللّٰه فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا اللّٰه وحده لاشريک له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

قال اللّٰه عزوجل فی محكم كتابه: وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ...[۵۵] سورة نور

ژباړه: وعده کړې ده، اللّٰه له هغو کسانو سره چې ايمان يې را وړی دی له تاسو، او کړي يې دي ښه عملونه چې قسم دی، خامخا به خليفه ګان کړي (اللّٰه) دوی په ځمکه کې، لکه چې خليفه ګان کړي يې وو هغه کسان چې پخوا وو له دوی نه او خامخا ثابت او قوي به وګرځوي هرومرو دوی ته دين د دوی، هغه (دين د اسلام) چې غوره کړی دی، (اللّٰه) دوی ته، او خامخا بدل به ورکړي، هرومرو دوی ته، وروسته له ويرې د دوی، له دښمنانو، امن (اواطمينان)، عبادت به کوي دوی زما، شريک به نه پيدا کوي دوی له ماسره هيڅ شی.





د افغانستان مجاهد او مؤمن ولس او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته!

السلام عليكم ورحمة اللّٰه وبركاته! وبعد:

۱. د نېکمرغه کوچني اختر د رارسېدو په مناسبت تاسو ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وايم، اللّٰه تعالی مو روژې، طاعات، صدقات، دعاګانې او ټول نېک اعمال په خپل دربارکې قبول او منظور وګرځوه.

د اللّٰه تعالی ډېر شکر ګزار يم چې سږکال کوچنی اختر په داسې حال کې لمانځو چې هېواد مو په بشپړ ډول له بېګانه اشغال څخه خلاص شوی، وروسته له درې څلوېښتو کالو څخه د جګړې اور په هېواد کې مړ شوی او د اسلامي حاکميت تر سيوري لاندې آرام او سوکاله ژوند ته زمينه مساعده شوې ده. الحمدللّٰه والمنة

ګرانو هيوادوالو!

۲. د هېواد د آزادۍ او استقلال حاصلولو لپاره د اسلامي امارت د ټولو سرښندونکو مجاهدينو او تر شا يې د ولاړ ولس جهاد، قربانۍ او هلې ځلې د ستايلو دي، له اللّٰه تعالی څخه ټولو ته په دنيا او آخرت کې پوره پوره اجرونه او عوضونه غواړم.

اللّٰه تعالی دې زموږ د تېر شل کلن او پخواني جهاد د ټولو شهيدانو شهادتونه او د ټولو مجاهدينو جهادونه قبول کړي، معلولينو، مهاجرينو، زخميانو او بنديانوته دې اللّٰه تعالی نېکه بدله ورکړي، د کونډو او يتيمانو دې اللّٰه تعالی د ښې پالنې زمينه مساعده کړي. آمين يارب العلمين

۳. وروسته له دې چې هيواد مو د رب جل جلاله په مرسته له بهرني اشغال څخه خلاص شو، اوس د دې وخت را رسېدلی چې ټول افغانان د ورونو په شان لاس سره ورکړو او د هېواد د آبادۍ، رفاه او سوکالۍ لپاره کار وکړو.

امنيت د آبادۍ او ښېرازۍ لومړی شرط ګڼل کېږي او د اسلامي امارت ځواکونو د خورا سترو قربانيو په ورکولو سره ډاډمن امنيت ټينګ کړی، اوس د ټولو هېوادوالو دنده ده چې نوموړي امنيت ته په کتو د افغانستان د بېرته ابادۍ، پرمختګ او سمسورتيا لپاره ملا وتړي رابډوهي او په خورا اخلاص او مېړانې سره خپل هېواد او بېچاره ولس ته کار او خدمت وکړي.

درنو هېوادوالو!

۴. د افغانستان اسلامي امارت خپلو ټولو مخالفینوته عمومي عفوه وکړه او په عمل کې یې نافذه کړه، د عفوې د مقتضا په اساس یوځل بیا ټولو هغو افغانانو ته بلنه ورکوم چې لاهم د مخالفت نیت او اراده لري، راځئ چې نور په خپل کور کې د ورونو غوندې آرام او هوسا ژوند وکړو، نور دا هېواد د هیڅ ډول توطئو د عملي کولو توان نه لري، نور پخپل ملت باید زړه وسوزوو او د بل کوم کړاو او فتنې دروازه خلاصه نه کړو، که خدای مه کړه، څوک د عفوې له حکم څخه تمرد او سرغړونه وکړي او بیا په هېواد کې د جګړې پیلولو هڅه وکړي، نو د دې ملت له خورا قاطع او سخت غبرګون سره به مخ شي او نور به دا ولس هیچاته اجازه ورنه کړي چې د پردیو په لمسون د هېواد سوله او امنیت خراب کړي.

۵. هغه افغانان چې له فتحې وروسته له هېواد څخه بهرته تللي، بلنه ورکووچې افغانستان زموږ او ستاسې ګډ کور دی، ټول په دې کور کې د ښه او آرام ژوند کولو حق لرو، هیڅوک له تاسو سره دښمني نه پالي او نه غواړي چې نور کوم افغان وځورول شي، هرڅوک چې بېرته را ستانه شوي، قدر یې شوی او په خپل هېواد کې آرام ژوند کوي، نوتاسو هم راځئ خپل هېواد ته را ستانه شئ او په پردیو هېوادونو کې د مجبوریت له ژوند څخه تېرشئ.

۶. د افغانستان اسلامي امارت بیا رغونې ته خورا اهمیت ورکوي، په همدې اړه یې یو قوي اقتصادي کمیسیون ټاکلی ترڅو د هېواد د آبادۍ لپاره له ټولو هغو ظروفو او امکاناتو څخه استفاده وشي چې افغانستان یې لري، همدا ډول د هېواد ملي تجارانو، شتمنو او صنعتکارانوته زمینه مساعده شوې چې په ازاد او آسانه ډول د افغانستان په بیا رغونه کې خپل رول ادا کړي، اسلامي امارت به د ټولو رغنیزو پروژو او هلو ځلو تر شا ولاړ وي او کلک ملاتړبه یې کوي .

موږ په افغانستان کې دننه او بهر سرمایه دارانو او شتمنو هیوادوالو او حتی نړیوالو پانګوالو ته بلنه ورکوو چې په افغانستان کې د سرمایه ګذارۍ لپاره ښه زمینه مساعده شوې، راځئ په افغانستان کې د پروژو د تطبیق، کار او صنعت لپاره سرمایه په کار واچوئ، اسلامي امارت به همکاري درسره وکړي او لا به لاره درته هواره کړي.





۷. د افغانستان اسلامي امارت له خپلو ټولو ګاونډیو او سیمه ایزو هېوادونو سره همدا ډول له ټولو نړیوالو سره ښې او مثبتې اړیکې غواړي.

موږ اجازه نه ورکوو چې له افغانستان څخه هیڅ کوم بل هېواد ته تهدید متوجه شي، همدا ډول له نورو هېوادونو څخه هم غواړو چې زموږ سره ورته ښه، مثبت او په متقابل درناوي ولاړ تعامل ولري.

د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ د دوحې تړون شتون لري، د هغه تړون په اساس به امریکا د افغانستان په کورنیو مسائلو کې مداخله نه کوي، اوس هم ټینګار کوو چې د دوحې تړون دې بشپړ عملي شي او د فشار پر ځای دې د همکاریو په روحیه پرمختګ وشي، اسلامي امارت له خپله لوري کړې ژمنې عملي کړي او عملي کوي یې.

۸. بې له شکه چې نړۍ د یوه کلي حیثیت پیدا کړی، د هېوادونو ترمنځ تعاملات یو له بل سره تړلي دي، زموږ هېواد افغانستان د نړۍ په سوله او امن کې خپل رول لري، د همدې اړتیا په اساس باید نړیوال د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژني، ترڅو خپلې ټولې ستونزې د دیپلوماتیکو نورمونو او اصولو په چوکاټ کې په رسمي او مسئولانه توګه حل کړو.

۹. له همسایه او نورو ذیربطه هېوادونو څخه غواړو چې په هغو هېوادونو کې زموږ له مهاجرینو سره د نړیوالو اصولو له مخې ښه چلند وکړي، هغوی ته وخت او اجازه ورکړي چې پخپله خوښه او عزت سره بېرته خپل هېوادته را ستانه شي، له مهاجرینو سره ناوړه چلند د بشري حقوقو خلاف او د هیچا په ګټه نه دی؛ بلکې د ملتونو ترمنځ د دوامداره کرکې او نفرت سبب ګرځي.

د مهاجرینو په برخه کې ملګري ملتونه او نړیوال نهادونه هم باید له افغانانو سره مرسته وکړي چې مهاجرینوته د بېرته راتګ لپاره ښه زمینه برابره شي.

۱۰. امربالمعروف او نهی عن المنکر د یوه اسلامي نظام له فرایضو او مهمو دندو څخه دي، خو د امربالمعروف او نهی عن المنکر مسئولین باید د حکمت او دعوت له لارې خپل ولس ته د حق او شریعت په لور بلنه ورکړي او له بدو څخه يې په حکمت او احتیاط سره را وګرځوي. د امربالمعروف مسئولین باید په دې برخه کې له افراط او تفریط څخه ځان وساتي. د یسر او اسانۍ څخه په استفاده باید خلک د اللّٰه تعالی دین ته را وبلل شي، یو معروف عملي کول یا له بدو منعه کول باید د بلې ګناه او عذاب سبب ونه ګرځي.

ملت هم باید د نیکو اعمالو په عملي کولو او له بدو څخه په منعه کولو کې له اړوندو مسئولینو سره مرسته وکړي، ترڅو ټول په مشترک ډول د اللّٰه تعالی له بغاوت او ګناه څخه خپل هېواد پاک او خپل اسلامي مسئولیت ادا کړو.

۱۱. په افغانستان کې د نشه یې توکو کرکیله په مطلق ډول منعه شوې ده، باید هېوادوال مو په دې اړه د اسلامي امارت فرمان ته درناوی وکړي او د هر ډول نشه یې توکو له کښت څخه ځان وساتي، ځکه داسې کول زموږ د لکونو هېوادوالو ژوند ګواښي.

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د بدیل معیشت، کښت او نورو لارو چارو په برابرولو سره د بزګرانو او په عموم کې د هېوادوالو ستونزو ته رسیده‌ګي وشي او له نړیوالو څخه هم غواړو چې د نشه یي توکو د بدیل معیشت او بدیل کښت لپاره د افغانستان له خلکو خصوصا بزګرانو سره مرسته وکړي او دا ستره موضوع چې د سیمې او نړۍ لپاره هم یو تهدید وو بابیزه ونه نیسي؛ بلکې اهمیت يې درک کړي او په بدل کې يې د اسلامي امارت او افغان ولس سره عملي همکارۍ ته را ودانګي.

۱۲. موږ په افغانستان کې د نارینه وو او ښځو ټولوشرعي حقوقو ته درناوی لرو او ځان ورته ژمن بولو، څوک دې په دې اړه اندېښنه نه کوي او نه دې هم دغه بشري او عاطفي موضوع د سیاسي موخو لپاره د یوې وسیلې په ډول کاروي. د تېرو شلو کلونو په پرتله اوس افغانان له خپلو اساسي حقوقو لکه ژوند، امنیت او عزت څخه زیات برخمن دي چې ستر کې نه شي ترې پټېدای.





۱۳. د تعلیم او زدکړو د لا پیاوړتیا لپاره د افغانستان اسلامي امارت لاس په کار دی. د دیني او عصري زدکړو لپاره يې د هېواد په ډېرو مرکزي او لرې پرتو سیمو کې نوي ښوونځي او مدرسې پرانستې دي او د زدکړو لپاره يې د امن فضا برابره کړې ده. استادانو او مدرسینو ته يې په خپل وخت معاشات اجراء کړي دي او تعلیمي نصاب يې ورته برابر کړی دی.

په دې لاره کې د لا نورو کامونو اخیستلو ته هم ژمن دی، ځکه تعلیم او زدکړه زموږ د هېوادوالو د نجات ذریعه او د پرمختګ او رفاه اساسي لاره ده.

۱۴. دغه راز اسلامي امارت د بیان ازادۍ ته هم د ملي ګټو او اسلامي ارزښتونو په رڼا کې ژمن دی او د سالمو او مثبتو نشراتو حمایت کوي. زموږ ټول نشراتي ارګانونه هغه که امارتي دي او که آزاد؛ باید د خپل ولس ګټې په نظر کې ولري او د خپلو اسلامي معتقداتو او مشروع رواجونو په نظر کې نیولو سره مثبت او رغنده نشرات وکړي.

۱۵. لکه څرنګه چې د افغانستان بېلابېلې برخې د اشغال او جګړو له امله ځپل شوې او له ستونزو سره مخ دي. زموږ صحي سکټور هم شدیده صدمه لیدلې ده، له نړیوالو صحي سازمانونو او بشري نهادونو څخه غواړو چې په دې برخه کې د افغانستان له ولس سره مرسته وکړي. د افغانستان اسلامي امارت به د دې کار لپاره چاپېریال برابر کړي او پخپله به هم هڅه کوي چې له خپلو امکاناتو څخه په استفاده د صحت لپاره ډېر څه وکړي.

۱۶. الحمدللّٰه د افغانستان اسلامي امارت په کم وخت کې وتوانید چې د هېواد د دفاع لپاره د یوې پیاوړې اسلامي او ملي اردو تهداب کېږدي. همدا ډول د ټولنیز امنیت لپاره د پولیسو موثر ځواک رامنځته کړي او د ملي ګټو د ساتنې په منظور قوي استخباراتي دستګاه په کار وګماري. دا کارونه پخپلو متو، افغاني امکاناتو او وسائلو خو په خورا لوړه روحیه او هدف رامنځته شوي چې له هېواد او اسلامي حاکمیت څخه به کلکه دفاع کوي او هیچاته به اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاورې، امنیت او ګټو ته زیان ورسوي، ان شاءاللّٰه.

**۱۷.** د اسلامي امارت ټولو مسئولینو، مجاهدینو او کارکوونکو ته لارښوونه کیږي چې له ولس سره ښه او نرم چلند زموږ تاسو ټولو فریضه ده. له ملت سره ستوغ او بد چلند ونه کړئ، له خپل ټوپک او قدرت څخه په استفاده په نورو خلکو ځان لوړ او قوي ونه ګڼئ. قدرت یو امانت دی چې ستاسو په اختیار کې درکول شوی، دا شیان د هیچا لپاره د عزت او پر نورو د برترۍ وسیله نه دي.

همدا ډول له بیت المال سره خورا ډېر احتیاط وکړئ. بیت المال یو امانت دی چې ستاسو په اختیار کې درکول شوی دی، هیڅوک په کې د بې ځایه تصرف، ضایع کیدو، خیانت او شخصي کولو حق نه لري، که څوک له بیت المال سره بې احتیاطي کوي، د امارت لخوا به هم له سخت شرعي چلند سره مخ شي او الله تعالی به هم سخته معامله ورسره وکړي، ان شآءالله.

د هېواد له ټولو شتمنو او مالداره خلکو څخه غواړم چې د اختر په دې ښو شپو ورځو کې خپل ناداره او مسکین هېوادوال له پامه ونه غورځوي؛ بلکې مرسته ورسره وکړي او تر وسه وسه یې لاس نیوی وکړي.

په پای کې یوځل بیا تاسو ټولو ته د اختر په مناسبت مبارکي وایم. ښې او خوشحاله شپې ورځې درته غواړم، الله تعالی مو دې نور هیواد د تل لپاره خوښ، سوکاله او له ډاډمن امنیت څخه برخمن لره. امین یا رب العلمین

**د اسلامي امارت زعیم**
**شیخ الحدیث مولوی هبة الله اخندزاده**

۱۴۴۳/۹/۲۸هـ ق
۱۴۰۱/۲/۹هـ ش ـ ۲۹/۴/۲۰۲۲ م